Logar Monthly

۴

لومړی کال، دریمه ګڼه؛ پرله پسې (۱۲۳) ګڼه

سه شنبه د ۱۴۰۰ هجري لمریز کال د چنګاښ دمیاشتې لومړی ؛ د ۲۰۲۱ عیسوي کال د جون دویشتمه

دامتیاز څښتن: دلوګر ولایت داطلاعاتواوفرهنګ ریاست

مسوول مدیر: شیرمحمدامیني «ستانکزی» ۰۷۰۵۱۰۶۶۲۸

د سمون او ایډیټ چارې: عبدالرحمن «تسل»، امین الله «صفا» او محمد زاهد«سلطاني»

د اړیکې شمیره: ۰۷۴۴۴۲۶۴۲۸ برښالیک: shir.stanikzai2@gmail.com

فیسبوک پاڼې: دلوګر اطلاعاتواوفرهنګ ریاست/ لوګر میاشتنۍ

یادونه: دسرلیکنې پرته د نورو لیکنو مسؤلیت پرخپله لیکوال پورې اړه لري.

ډیزاین: امیني ستانکزی

چاپ ځای: آزادي مطبعه

روند ادبی مستقل گل سنجد ، برنامه های ادبی و فرهنگی را در لوگر آغاز کرد

مسوولان ریاست اطلاعات وفرهنگ لوگر می گویند که به همکاری فرهنگیان، شاعران وادیبان روند ادبی مستقل گل سنجد در لوگر برنامه های اش را آغاز نمود.

در نخستین برنامه این روند که به تاریخ 20 جوزا در ریاست اطلاعات وفرهنگ لوگر با اشتراک عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ، شاعران، فرهنگیان و ادیبان برگزار گردیده بود، روی افزایش فعالیت های فرهنگی وادبی تاکید گردید.

عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ لوگر می گوید که این روند به شکل مستقلانه از سوی فرهنگیان، شاعران و ادیبان به پیش برده می‌شود، آقای تسل علاوه کرد که روند یادشده ادبی وفکری به هدف گسترش فعالیت های ادبی و فرهنگی و تشویق ره روان قلم وادب ایجاد گردیده است.

همچنان طی این روند ادبی در هر پانزده روز نشست های میان ادیبان، شاعران و فرهنگیان پیرامون بحث درمورد ژانرهای ادبی برگزار خواهد شد ونیز برنامه های شعرخوانی راه اندازی می گردد.

قابل یاد آوری است که از میله عنعنوی گل سنجد باراه اندازی برنامه های شعرخوانی، نمایشگاه ها و برنامه های متنوع دیگر همه ساله در لوگر تجلیل بعمل می آید که امسال پانزدهمین دور مشاعره عنعنوی گل سنجد برگزار شد ودرکناراین فعالیت های فرهنگی برای اولین بار روند ادبی مستقل گل سنجد نیز ایجاد گردیده است.

د ښاري فرهنګ ترویجولو او د پاک ښاري چاپیریال په موخه اشر(ګډ کار) تر سره شو

دغبرګولې ۱۹ مه:

د چاپیریال ساتنې نړیوالې اونۍ نمانځلو په مناسبت په لوګر ولایت کې د چاپیریال ساتنې او لوګر ښاروالۍ ریاستونو په ګډه همکارۍ او د یو شمیر نورو ادارو په ملتیا عمومي اشر د پاک ښاري او کاري چاپیریال درلودلو په موخه ترسره شو.

په دې اشر کې د لوګر والي عبدالقیوم رحیمي سربیره د ولایتي شورا رییس حسیب الله ستانکزي، لوګر ښاروال رفیع الله احمدزي، د چاپیریال ساتنې اداري رییس عبدالنادر واحدي، اطلاعاتو او فرهنګ رییس عبدالرحمن تسل او د برکي برک ولسوال احمد ویس عبدالرحیمزي، ځوانانو، د مدني ټولنو استازو، ښاریانو او هټیوالو ګډون کړی وو.

دوی په پوره همکارۍ په لوګر ښار کې او همدارنګه په ټولو دولتي اداراتو کې د سالم او پاک کاري چاپیریال درلودلو په موخه اشر (ګډ کار) پلي کړ.

د یادونې وړ دی، چې په دا وروستیو کې د پل علم ښاروالۍ په مرسته او زیار د ښار تنظیف، پاک ښاري چاپیریال او ښاري فرهنګ تریویجولو ته ځانګړې پاملرنه شوې او هره ورځ د منظم ښار درلودلو په موخه اشرونه کوي.

ګرانو هېواد والو!

د کرونا ویروسي ناروغۍ مخنیوي لپاره لاندې ټکي په پام کې ونیسئ!

- لاسونه مو په اوبو او صابون یا لاس مینځلو مایع سره د ۲۰ ثانیو لپاره هره ورځ لږ تر لږه له ۳۰ تر ۴۰ ځلي ومینځئ.
- د هغو وګړو سره چې زکام او ریزش لري له نږدې اړیکې څخه ډډه وکړئ.
- د ټوخي او پرنجي پرمهال خپله خوله او پزه په دستمال یا څادر وپوښئ.
- د لاس ورکولو، ښکلولو او روغبړ څخه ډډه وکړئ.
- د ګڼې ګوڼې ځایونو ته له تګ را تګ څخه ډډه وکړئ.
- که ټوخی، ریزش یا زکام لرئ، خلکو سره د اړیکې پرمهال باید ماسک ولرئ.
- د بدن مقاومت لوړولو لپاره د ویټامین سي لرونکې ترکاري او میوې لکه: لېمو، نارنج، کینو، مالټې او کېوي وکاروئ.
- که د ناروغۍ احساس کوئ نو په کور کې پاتې شئ.

د دې پنځلس مهمو ټکو په مراعاتولو سره ښه...

۱۳ــ له کارمندانو سره ښې اړیکې ولرئ؛

اړیکې یو دوه اړخیز سړک دی، په یاد ولرئ، چې ستاسو پر غاړه دی، چې له کارمندانو سره اړیکه ټینګه کړئ او په خپلو هیلو باندې هغوی پوه کړئ او په مقابل کې د هغوی اندېښنو ته هم پام وکړئ. یو ښه مشر هغه څوک دی، چې د لاسرسي وړ وي او په کارمندانو پورې اړوندو مسایلو کې هوښیارانه کړنې ترسره کړي. دا غوره ګڼم، چې کارمندان مې وکولای شي، په ډېرې هوسانې ماته راشي، پر ځای د دې چې په خپلو دندو کې یې د نه روښتیا له امله د ناکامۍ شاهد واوسم.

۱۴ــ کاریزما لري؛

یو ښه رییس یا یو ښه مدیر، نور خپل شخصیت ته جذبوي. کاریز ما، یانې چې تاسو د دې وړتیا ولرئ، چې نور د یوې ښې او خوندورې اړیکې په لور سوق کړئ. یو ښه رییس دا کار په ځیرکه توګه د پوښتنو په پوښتلو، د نورو خبرو ته په غوږ نیولو او مثبت لید سره ترسره کوي. د MIT پوهنتون څېړونکو دا موندلې، خوشبین کسان، چې د نورو خبرو ته په ډېرې لېوالتیا سره غوږ نیسي، نو په طبیعي ډول د کاریزما لرونکي دي او معمولا په خبرو اترو او مرکو کې بریالي کړنې ترسره کوي. رییس که چېرې له نورو سره په خپلو تعاملاتو، کړنو او چال چلند کې ځیرک ونه اوسي، نو له سترې نیمګړتیا سره لاس و ګرېوان دی.

۱۵ــ نظرونو ته ارزښت ورکوي؛

یو ښه رییس، د نورو نظرونو او وړاندیزونو ته ارزښت ورکوي او هڅه کوي، چې نظرونه پیدا کړي. په ډېرې مواردو کې، رهبران په ظاهره نظرونه ترلاسه کوي، خو د عمل جامه نه ور اغوندي. ستر رهبران، د نورو د نظرونو او وړاندیزونو درناوی کوي او هغو ته په ډېرې لېوالتیا سره غوږ نیسي، چې دا د دوی او د دوی د کارمندانو د ارزښت په زیاتېدو کې مهم رول لوبوي.

روش های موثر در ...

در هر رسانه هدف رسانه یی مطرح است یعنی هر رسانه بر بنیاد چشم انداز نشراتی که همان هدف وی است.

بنا بر این مدیر فعال و خلاق فردی است که توانایی طرح و عملی کردن برنامه های موثر را در چارچوب هدف رسانه یا سیاست رسانه یی داشته باشد.

در این بخش می توان یاد آورشد که توجه بر اصل مشارکت، نظر خواهی و کار جمعی، فرصت های گسترده تری را برای روند مدیریت در رسانه ایجاد می کند که مدیر کارا می تواند از این فرصت ها به سود رسانه خود استفاده درست نمایند و روند اطلاع رسانی باعث تقویت فرهنگ، پیشرفت وآبادانی یک ملت وکشور گردد ورسانه با مدیر مدبر نقش بارز اش را درسطح رسانه ها هویدا نماید.

ترتیب کننده: امین الله «صفا»

اطلاعیه

با اطلاع آنعده از جوانان ولایت لوگر و ولسوالی های مربوطه آن رسانیده میشود که میخواهد در صفوف کندک های قوای هوایی دولت جمهوری اسلامی افغانستان به حیث سرباز و بریدمل ایفای وظیفه نمایند وشرایط ذیل را داشته باشند.

۱ – تذکره تابعت افغانستان را داشته باشند.

۲ – معلول، معیوب و معتاد به مسکرات نباشند.

۳ – سابقه جرمی نداشته باشند.

واجدین شرایط میتوانند جهت شمولیت به قومندانی جلب وجذب ولایت لوگر سر از تاریخ ۹ جوزا ۱۴۰۰ مراجعه نمایند، ثبت نام همه روزه جریان دارد.

خاطره: حق اولویت به کسان داده میشود که سند افتخاری جزوتامهای قوای مسلح افغانستان را داشته باشند.

شماره های تماس برای معلومات:

۰۷۹۹۳۵۷۹۰۰ - ۰۷۷۰۷۰۰۴۴۰

خانواده

د ښایسته ژوند لپاره مو له کورنۍ سره چلند کې بدلون راولئ!

ژباړه: حمیدالله «حمیدي»

ډېری کسان کله چې په ټولنه او یا هم کاري چاپېریال کې وي، له خلکو او خپلو همکارانو سره ډېر په زړه پورې، صمیمي او له مینې ډک چلند کوي، چې له نیکه مرغه دا یو ښه عادت دی او په دې سره یې ورځ تر بلې د ملګرو شمېر هم زیاتېږي. خو له بده مرغه، کله چې دغه کسان کور ته ننوزي، دا هر څه له دروازې بېرون پرېږدي، داسې رفتار او خبرې کوي چې په یو ډول نه یو ډول یې د مېرمنې د آزار او خپګان سبب کېږي. ډېره کله دا خبرې آن د بې ادبۍ تر سرحده پورې رسېږي، خبره دومره له چوکاټه وځي، چې آن مقابل کس یې هم د زغملو توان له لاسه ورکوي.

کله چې موږ له خپلې مېرمنې سره ښه چلند کوو، دا په دې مانا ده، چې هغوی موږ ته ارزښت لري او دا څه د مېرمنو لپاره تر هرڅه ارزښتناک او د قدر وړ دي، دوی احساس کوي چې خاوند ته یې څومره مهمه ده او د خاوند په شتون کې د پوره ډاډ او امنیت احساس ورته پیدا کېږي.

کله چې تاسو خپلې مېرمنې ته په احترام قایل شئ او درنښت ورکړئ، معلومه خبره ده چې دوی دوه چنده له تا سره ښه چلند کوي او په درنه سترګه درته ګوري. دا څه یوازې د مېرمنو کار نه دی، بلکې که تاسو په هر ډول چاپېریال کې له خلکو سره ښه چلند وکړئ، نو په بدل کې به یې ښه چلند وینئ. دا خبره سمه نه ده چې وایي: «ښه مه کوه بد نشته»؛ بلکې اصلي خبره دا ده چې وایي: «انسان د احسان تابع دی» که دې ښه وکړل په بدل کې به یې ښه وینې او که خدای مه کړه له چا سره بد چلند وکړئ، نو بیا د ښو تمه هم مه ترې کوئ.

څېړنو ثابته کړې ده، چې د نارینه وو په نسبت ښځې څو چنده پر خپلو مېړونو مهربانه دي. کېدای شي ځینې وخت د مېرمنې لخوا هم له خاوند سره بد چلند وشي، خو په ګډ ژوند کې دا هر څه ممکن دي او باید د دواړو ترمنځ د خبرو له لارې جوړ جاړی وشي. مشهوره خبره ده، چې وایي:

«که یو کس د بام پر سر یوازې ژوند کوي، بهتره داده، چې له یوې ژبورې ښځې سره تر چت لاندې ژوند وکړي.»

مېړونو ته هم لازمه ده، چې تل د خپلو خبرو واک په خپل لاس کې واخلي، تل متین او باوقاره اوسي. د یوه نارینه لپاره لازمه ده، چې هر موقعیت ته په کتو سره خبرې وکړي او خبرې یې د دې سبب نه شي، چې خدای مه کړه د چا د ازار سبب وګرځي.

کېدای شي کله په کور کې تاسو په غوسه وی، خو کله چې دروازه ټک کېږي، ژر تر ژره باید د خپلو خبرو لهجې ته بدلون ورکړئ او په ډېره نرمه او له مینې څخه په ډکه لهجه او خلاص تندي له راغلي کس سره خبرې وکړئ.

له دې لیکنې څخه مو موخه دا ده، چې له هر چا سره باید د خبرو کولو ځانګړی طرز په پام کې ونیسئ، په ځانګړي ډول له خپلې مېرمنې سره، ځکه هغه ستاسو د ژوند شریکه ده، که تاسو د خپل ژوند له شریکې سره ښه اړیکه ونه لرئ، نو مه هېروئ، چې له خپل ژوند څخه په هېڅ صورت سره خوند نه شی اخیستی او بالاخره دا څه د دې سبب کېږي، چې اولادونه به مو هم په ښه روحیه نه وي روزلي او آن ډېری وخت کېدای شي ستاسو په کورنۍ کې د درز لامل وګرځي.

د دې لپاره چې پوه شئ تاسو په خپل کور کې له مېرمنې سره په اصولو او د ادبي معاشرت په چوکاټ کې خبرې او چلند کوئ که نه؟ باید دغو پوښتنو ته ځوابونه ووایئ.

مېرمن مو ستاسو د خبرو او ورځني چلند په اړه څه احساس لري؟

ستاسو چلند ستاسو د مېرمنې پر عزت نفس باندې څه تاثیر لري؟

مېرمن مو د یوه نعمت په سترګه درته ګوري او که په شتون مو شرمېږي؟

دغو پوښتنو ته په ځواب ورکولو سره به درته جوته شي، چې تاسې څه ډول کس یاستئ، که پوه شوئ، چې تاسو په سم ډول له خپلې مېرمنې سره د معاشرت د اداب له مخې پر مخ نه ځی، نو لا هم وخت لرئ، چې خپل ځان جوړ کړئ، څو له پاتې ژونده خوند واخلئ.

څه باید وکړئ؟

تاسو پر دې پوهېږئ، چې مینه ګوستاخي نه، بلکې د ښه ژوند لپاره تر ټولو یوه ښه لاره ده. که په رښتیا هم له خپلې مېرمنې سره مینه لرئ، نو ضرور باید له هغوی سره د معاشرت اداب هم زده کړئ.

د دغه کار د کولو لپاره تر ټولو مخکې له هغو کارونو لاس واخلئ، چې د مېرمنې د خپګان او آزار سبب مو ګرځي.

په دغه ځای کې درې شیان دي، چې له تاسو سره مرسته کوي، څو له مېرمنې سره مو د معاشرت اداب زده کړئ.

۱- له مېرمنې سره مو داسې چلند وکړئ، چې تاسو یې هم د کولو تمه ترې لرئ.

۲- کله چې تاسو له کور څخه بېرون، په ټولنه، کاري چاپېریال او له نږدې ملګرو سره څه ډول چلند کوئ، په کور کې هم په هماغه ډول خندان او مینه ناک اوسئ.

۳ــ هغه څه چې مخکې مو مېرمنې در څخه غوښتي، تر اوسه مو نه دي تر سره کړي، بیا ترې وپوښتئ، دغه څه هم ور سره شریک کړئ او قناعت ورکړئ، چې غوښتنې یې باید په داسې سرحد کې وي، چې ستاسو له وس سره پوره وي. ډاډه یم کله چې له خپلې مېرمنې سره په سم ډول چلند وکړئ، په هر ډول در سره ګزاره کوي، ځکه چېرته چې خوښي وي، هلته بیا مادیاتو ته دومره ارزښت نه ورکول کېږي او معلومه خبره ده، چې خوښ ژوند په ډېرو پیسو او مادیاتو کې نشته، یوازې موږ خپله کولای شو، چې د ځان لپاره د خوښ ژوند زمینه برابره کړو او بس.